

# آی سي آر سي په افغانستان کې

ICRC

IN BRIEF

# موږ څوک يو


د سره صليب نړيواله کميټه (آی سي آر سي) په ټوله نړۍ کې د وسله والو جګړو او د تاوتريخوالي د نورو حالاتو د ځپل شويو خلکو خونديتوب او ورسره مرسته کوي. په افغانستان کې زموږ پروګرامونه داسې جوړ شوي چې د خلکو پر روزانه ژوند باندې د لسيزو وسله والو جګړو د مستقيمو او غيرې مستقيمو او د تاوتريخوالي د نويو پېښو پايلې راکمې کړي او په ورته مهال کې تر ټولو زيانمنو خلکو معيشت ته وده ورو‌بښي او يا يې هم ساتنه کوي. پردې سربېره، موږ په بېړنيو حالتونو کې د مستقيم ملاتړ د چمتو کولو په برخه کې د روزنيزو پروګرامونو د ترتيبولو او رامنځته کولو په موخه له مخورو يا بانفوذه خلکو، سازمانونو او شريکبانو سره پر بشري خبرو اترو هم بوخت يو.

چې کله هم شوني وي، نو موږ پخپلو عملياتو کې پاينده کړنلارې پلي کوو، چې په دې کې له ټولنو سره کار کول دي ترڅو داسې وتلارې وړاندې کړو چې له چاپېرياليزه او اقليمي اړخه مناسبې وي ترڅو له محدودې ځمکې، اوبو او نورو سرچينو تر ټولو غوره ګټنه وشي.

## تر ۴۰ ډېرو کلونو راهيسې په افغانستان کې شتون

موږ په افغانستان کې په ۱۹۷۹ ام کال کې خپل کار پيل کړ، چې په پېښور او کويټه کې مو له جنګي ټپيانو او هغو خلکو سره مرسته کوله چې په افغانستان کې د جګړو لخوا بېځايه شوي وه. موږ په ۱۹۸۷ ام کال کې په کابل کې تلپاتې استازولي رامنځته کړه.

## موږ چيرې کار کوو



# مونږ څه کوو

## د روغتیایي پاملرنې ملاتړ

مونږ له روغتیایي چارواکیو سره د توکیزو یا مادي، مالي او تخنیکي ملاتړ په برخه کې مرسته کوو، چې په دې توګه دوی د افغانستان د خلکو لپاره روغتیایي چوپړتیاوو ته پرله پسې لاسرسی چمتو کړي. مونږ پوهاوی لوړو او د هغو هاندوهڅو لاسنیوی کوو چې د روغتیایي پاملرنې کارمندانو، ناروغانو، مرکزونو او د طبي موخو لپاره له کاریدونکي ټرانسپورټ څخه د درناوی ملاتړ کوي. دا لارې چارې چټکه او مناسبه طبي پاملرنه ډاډمنوي. زمونږ پروګرامونه لاندې برخې رانغاړي:

- د روزنې، درملو او مصرفي توکو، له متخصصینو څخه د ملاتړ او د روغتیایي مرکزونو د نوسازۍ له لارې یې په درست هېواد کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې له ۴۷ لومړنۍ روغتیایي پاملرنې له روغتیایي مرکزونو څخه ملاتړ کړی دی
- د طبیعي پېښو، د ناروغیو په خپرېدا او نورو روغتیایي بېړني حالتونو کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې د بېړني اقدام له ټیمونو څخه ملاتړ کړی دی
- دلومړنیو اقدام کوونکیو لپاره دلومړنۍ مرستې روزنې ترڅو دوی وکولای شي چې په چټکه او خوندي توګه د ژوبلېدنو درملنه وکړي
- د ورکشاپونو د روزنکیو د لومړنۍ مرستې روزنه ترڅو د لومړنیو اقدام کوونکیو ډلو د دومداره روزنې ورتیا لوړه شي
- د بېړنۍ خونې د تجهیزاتو او طبي اکمالاتو پر بسپنې سربېره چې د نا اټکل شویو ژوبل شویو کسانو د راتګ په سنبالنه کې یې لاسنیوی وکړي، د اوبو او برېښنا رسولو په برخه کې د ټاکل شویو روغتونونو له بېړنیو څانګو څخه ملاتړ
- پراخو مرګ ژوبلو ته د بېړني اقدام لپاره روغتیایي مرکزونو ته د طبي توکو چمتو کول




دا چې د روغتیایي پاملرنې د کارمندانو اوږدمهاله پایښت ډاډمن شي، نو مونږ په لاندې برخو کې تخنیکي، مالي او روزنیز ملاتړ هم چمتو کوو:

- مونږ په کابل کې د غضنفر د روغتیایي علومو د انستیتوت او همدارز دهغې د اتو څانګو له جاري لګښتونو، د روزنې لپاره د توکو، څارنې، د نصاب د بیاکتنې او ( د نارینه او ښځینه) زده کړیالانو لپاره د خوړو په برخه کې هم ملاتړ چمتو کوو.
- مونږ د ټاکل شوي روغتون په عاجلو څانګو کې د عاجلې خونې د پاملرنې او د ترياژ د چمتو کولو په برخه کې د روغتیایي پاملرنې د کارمندانو کلینکي وړتیاوې پیاوړې کوو ترڅو ناروغان پخپل وخت پاملرنه ترلاسه کړي.
- مونږ د روغتیایي چارواکیو د داخلي روزنې څانګې، د روزنې له ښوونځیو، د عاجل اقدام او چمتووالي له څانګې سره کار کوو ترڅو د عاجلې څانګې د روزنې ورتیا لوړه شي.
- مونږ د افغاني سرې میاشتې ټولنې په کلینکونو کې د لومړنۍ روغتیایي پاملرنې د کارمندانو لپاره د تغذیې، فارمیسۍ په اداره کولو، مشرۍ او سنبالنې، روغتیاڅارنې په خطر کې او د مور – کوچني په برخه کې روزنه چمتو کوو.

## د فزيکي بيارغاونې چوپړتياوې

موږ د فزيکي بيارغونې په اوو مرکزونو کې د تخنيکي او سنبالنې د مهارتونو روزنه چمتو کوو. موږ د دوی د زيربنا په ښه کولو کې هم مرسته کوو ترڅو دوامداره او د کارمندانو او ناروغانو دواړو لپاره په اسانۍ سره د لاسرسي وړ وي. زموږ د پروګرام ځينې غټ ټکي دا دي:

- د هغو لسګونو زرو کسانو لپاره چې خپلې پښې يا لاسونه يا له لاسه ورکړي وي او يا يې هم معلوليتونه ګاللي وي، د مصنوعي غړو او فزيوتراپيکي درملنو چوپړتياوې چمتو کړې دي.
- د کلب فوت او مغزي فلج د معلوليت درلودونکيو کوچنيانو لپاره د بيارغاونې چوپړتياوې او کومکي وسيلې چمتو کړې دي.
- د مسلکي روزنې، کوچني پورونو او لوبو له لارې يې معلولينو ته د ټولنيز ادغام دودوالي کړی او د معلولو کوچنيانو لپاره يې د زده کړې چوپړتياوې چمتو کړې دي.
- د پاراپلجيک ناروغانو کورونو ته تللي ترڅو دوی ته فزيوتراپيکي درملنې چمتو کړي او د دوي کورنيو ته يې سلامشورې برابرې کړي چې څرنګه په غوره توګه د داسې ناروغانو پاملرنه وکړي.
- په کابل، جلال آباد، ګلبهار، فيض آباد، مزارشريف، هرات او لښکرګاه کې د فزيکي بيارغاونې مرکزونو ته يې د سنبالنې په برخه کې ملاتړ چمتو کړی دی.


M. Samimi/ICRC

## له آزادۍ د بې برخې شويو کسانو خونديتوب

موږ تر ۴۰ کلونو څخه ډېر په افغانستان کې د خپل بشرپاله دندې له مخې له توقيفځايونو څخه ليدنې کتنې کوو. د آی سي آر سي د زندان په فعاليتونو کې محرميت او دوه اړخيزه خبرې اترې هغه مرکزي ټکی دی چې موږ يې د زندان له چارواکيو سره برقراره ساتو. دا خبرې اترې د بنديانو لپاره د انساني ژوند د وضعيتونو او له آزادۍ د بې برخې شويو کسانو سره د احترامانه چلن، او د پلي کېدو وړ قوانينو او معيارونو له مخې د دوی د قضايي ضمانتونو دودوالي کوي.

زموږ د پروګرام ځينې غټ ټکي دا دي:

- د بېلابېلو چارواکيو تر ولکې لاندې له توقيفځايونو څخه منظمې ليدنې کتنې، چې دا کار له چارواکيو او بنديانو سره د خبرو اترو له لارې او همداراز زموږ د مشاهداتو له لارې ترسر کېږي او موږ دا هم ګورو چې بنديان څرنګه ساتل کېږي او څرنګه چلن ورسره کېږي. تر هرې ليدنې کتنې وروسته موږ له اړونده چارواکيو سره خپلې موندنې او سپارښتنې شريکوو.
- په افغانستان او بهر کې له توقيف شويو او د هغوی له کورنيو سره د اړيکو د بيا ټينګولو ملاتړ کول. په ځينو مواردو کې موږ له بندي شويو کسانو سره د دوی د کورنيو د غړو د ليدنې کتنې لپاره لاره چاره هم چمتو کوو
- د محابسو د کارمندانو لپاره د عمومي محبس د سنبالنې او د خوړو د سلسلې د سنبالنې په اړه د روزنيزو غونډو، ورکشاپونو او د وړتيا لوړولو د غونډو ترسره کول
- له بنديانو سره د مرستې لپاره د روغتيا ساتنې او ژمنۍ مرستو چمتو کول. چې کله هم ورته اړتيا وي، موږ د زيربناوو په ترميم يا لوړولو کې هم مرسته کوو، چې په دې کې د اوبو او برېښنا رسولو سيستمونه او د روغتيا ساتنې اسانتياوې هم شاملې دي.
- د محبس د روغتيايي چوپړتياوو د پروګرام د پراختيا او پلي کولو لپاره د تخنيکي او

مالي ملاتړ برابرول. موږ په ځانګړي ډول په سرپوزې او هرات کې د ولایتي زندانونو له کلینیکونو څخه ملاتړ کوو ترڅو بندیان طبي پاملرنې ته لاسرسی ولري. چې کله هم ورته اړتیا وي، نو موږ له چارواکیو سره همکاري کوو ترڅو روغتیایی بیړنیو حالتونو ته ځواب ووایو لکه د ناروغیو شیوع یا خپرېدا

له نارینه او ښځینه بندیانو سره د بېلابېلو حرفوي پروګرامونو په برخه مرسته کول ترڅو تر خوشې کېدو وروسته په ټولنه کې د دوی له ادغام سره مرسته وکړي.

د مرکزي محبس د ساختماني واحد او د محبسونو د روغتیا او ساتنې د کمیټو د ظرفیت لوړول، چې دا کار د روزنې او د حفظ و مراقبت لپاره د پرزه جاتو د چمتو کولو له لارې ترسره کېږي.


F. Ahmad Fozan/ICRC

## د ملکي وګړو خوندیتوب

موږ د بشرپاله وضعیت څارنه کوو او چې هر کله د نړیوال بشرپاله حقوقو او د ملکي وګړو د ساتنې په اړه اندېښنې راپورته شي، نو موږ له وسله والو ښکېلو کسانو سره په دې اړه محرمانه او دوه اړخیزه توګه خبرې کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې دوی په خپل چلن کې بدلون راولي ترڅو د خلکو له حقونو څخه د ناوړه ګټنې مخه ونیسي.

موږ د ټولنې له غړو سره خبرې کوو، چې د دوی د خوندیتوب اندېښنې په غوره توګه درک کړو او داسې لارې چارې ومومو چې پر دوی باندې بشرپال اغېز رامحدود کړي.

## د بشرپاله قواعدو او آرونو یا اصولو دودوالی

موږ د منلتیا او د اصولي بشرپاله اقدام د ملاتړ او دهغو قواعد لپاره د درناوي دودوالی کوو، چې په وسله والو شخړو او د تاوتریخوالي په نورو حالتونو کې انساني کرامت راکم کړي. موږ د بنسټیزو بشرپاله آرونو یا اصولو پوهاوی لوړو او د بشرپاله اندېښنو وړ موضوعاتو په اړه له چارواکیو او نورو لوریو سره خبرې اترې کوو.

## د وسلې د ککړتیا پر وړاندې مقاومت

موږ د وسلو د ککړتیا د خطرونو په پېژندلو، ارزولو او ځواب ورکولو کې لاسنیوی کوو او د چاودېدونکیو توکو له کبله رامنځته شوې مرګ ژوبلې راکموو. زموږ په فعالیتونو کې دا لاندې ټکي رانغاړل کېږي:

په ټولنو کې د ناستو ترسره کول ترڅو د خطر پوهاوی او خوندي چلن زیات شي

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د خپلخوښو وړتیا لوړل ترڅو مخنیوونکي پېغامونه خپاره کړي

د مرستې چمتو کول ترڅو د وسلې د ککړتیا له کبله پر کورنیو باندې تپل شوي مالي فشارونه راکم کړي. ځینې قربانیانو یا کورنیو نقدي مرسته هم ترلاسه کړې ترڅو د کوچني کاروبار په پیلولو کې یې لاسنیوی وکړي او خپله ګټه وټه پرې ترلاسه کړي.

## د کورنیو اړیکو ساتنه او بیا ټینګونه

د افغاني سرې میاشتې ټولنې په همکارۍ، موږ د هغو کورنیو غړو موندنه کوو چې د وسله والې جګړې، د تاوتریخوالي د نورو حالتونو، طبیعي پېښو یا کډوالي له لامله یو له بله جلا شوي وي چې په دې توګه د دوی برخلیک او ځای ځایګی روښانه کړو.

د کورنو اړیکو د بیاټینګولو دا چوپړتیاوې د بېلابېلو لارو لکه د سره صلیب پېغامونو (چې پکې لنډ کورني معلومات شامل وي) او ویډیویي ټیلفونو له لارې د کورنۍ اړیکو ساتنه او بیاټینګونه کوي. چې کله هم ورته اړتیا وي، نو له خپلو کورنیو سره د جلا شویو کوچنیانو بیا یوځای کېدو ته هم لار اواری کوو.

## د مړو باعزته سنبالنه

د مړو د باعزته سنبالنې لپاره موږ له بېلابېلو لورو سره په همغږۍ کار کوو. زموږ کار لاندې ټکي رانغاړي:

- د عدلي طب د چوپړتیاوو او د قربانیانو په موندنه او پېژندنه کې ښکېل د نورو لورو د تخنیکي ورتیا پیاوړي کول
- د توکو د بسپنې یا هم د مرده خانو د ارتقاء او ترمیمولو له لارې د عدلي طب د چوپړتیاوو د ورتیا لوړول
- په تاوتریخوالي پورې اړوند د انساني اجسادو په بېرته ترلاسه کولو او لېږدولو کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې ملاتړ

## له ټولنو سره اقتصادي مرسته

موږ د زیانمنو ټولنو لاسنیوی کوو ترخو دوی خپلې بنسټیزې اړتیاوې پوره کړي، خپل معیشت بیا جوړ کړي او مقاومت یې لوړ شي. زموږ ملاتړ لاندې ټکي رانغاړي:

- تر ټولو زیانمنو کورنیو سره څو اړخیزه نقدي مرستې ترخو خپلې بنسټیزې اړتیاوې پرې پوره کړي او د زیان رسوونکي تطابقي مکانیزمونو مخنیوی وکړي.
- له هغو کوچنیو بزګرانو سره څو اړخیزه نقدي مرستې چې د کلونو شخړو او وچکالۍ ځپلي وي، ترخو خپله بزګري پرې بیا پیل کړي. موږ د سرچینو د سنبالنې او د کښت د غوره طریقو په اړه هم روزنه


M. Samimi/ICRC

چمتو کوو، ترخو د اقلیمي ټکانونو پر وړاندې د ټولنو مقاومت لوړ شي.

- د کار په مقابل کې د پیسو پروژې، د عایداتو د فرصتونو چمتو کول، او د اوبو لګولو او د ځمکې د ساتنې لپاره د اړینې بېخبنا ساتنه
- د دوه ځانو یا امیندوارو او شېدې ورکوونکیو ښځو لپاره نقدي مرستې ترخو دوی پرې ځان ته تغذیوي توکي چمتو کړي او د خوارځواکۍ مخنیوی پرې وکړي. پردې سربېره د کم تغذیه کوچنیانو او ښځو لپاره د ټولنې په کچه وړ روغتیایي چوپړتیاوو ته د ارجاع کولو سیستم هم رامنځته شوی دی.

## اغېزمنو سیمو ته د اوبو او برېښنا رسول

موږ په کلیوالي او ښاري سیمو کې د زیانمنو ټولنو لپاره پاکو اوبو او برېښنا ته د لاسرسي په ښه کولو کې مرسته کوو، د خلکو هوساینه لوړوو، د معیشت د ترلاسه کولو ورتیا یې لوړوو او د دوی د وقار ساتنه کوو. موږ د اوبو د سنبالنې د سیستمونو په جوړولو کې مرسته کوو، چې چې ساتنې ته لومړیتوب ورکوي او ضایعات راکموي او د اوبو د کمښت او د اقلیم د بدلون منفي اغېزو ته رسېدګي کوي. زموږ د فعالیتونو غټ ټکي دا دي:

- په کلیوالي سیمو کې له ټولنو او چارواکو سره پر ځینو پروژو کار کول لکه د لمریز برېښنا نوي سیستمونو جوړول، د کورني بایو سینډ فلټرونه، د خرابو لاسي پمپونو ترمیم او حفظ و مراقبت، د اوبو د سیستم د ښه کولو لپاره د ځایي کارپوهۍ لوړوالی او له اقلیمي بدلون سره د مقابلې په برخه کې له ټولنو سره مرسته چې د اوبو د سرچینو سنبالنه وکړي.
- له چارواکیو څخه ملاتړ چې د اوبو د سرچینو سنبالنه پرې ښه کړي چې دا کار په دې لارو کېږي لکه د کلورین د ډوزنګ پمپونو نصبول، د اوبو رسولو په تداوم کې مرسته، د پمپونو نصبول، د اوبو د شبکو نوسازي او پراختیا او د دوامداره انرژۍ شاملولو طریقې چې دا کار له ذخیرو




او د انرژۍ له بیا نوي کېدونکیو سرچینو سره د اوبو د مرکزونو د نښولولو له لارې کېږي. د حفظ و مراقبت لپاره د اړینو پرزه جاتو، وسایلو او تجهیزاتو چمتو کول، موږ د ښار د اوبو د چوپړتیاوو اوږدمهاله دوام تضمینوو.

د برېښنا د کیفیت په ښه کولو کې مرسته کوو، چې دا کار له دې لارې کېږي: د مصرفېدونکیو توکو، پرزه جاتو، ټرانسفرمرونو او جنراتورونو اکمالول، د برېښنا د توزیع د مزو جوړول چې حیاتي بېخبنا لکه د اوبو مراکزو او روغتونونو ته برېښنا ورسوي.

په بېړنیو حالتونو کې د برېښنا او اوبو رسونې په اکمالولو کې مرسته

## له افغاني سرې میاشتې ټولنې سره ملتیا

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د تجربو او ظرفیت لوړول چې د کلونو شخړو او طبیعي پېښو وروسته بېړنیو پېښو او بحرانونو ته ځواب ووايي، موږ کار کوو چې ملي ټولنه د نویو ننګونو لپاره چمتو کړو.

زموږ ځینې فعالیتونه په لاندې ډول دي :

د ملي ټولنې د نهادي او عملیاتي وړتیا لوړول، چې پکې دا موارد شامل دي : د ملي ټولنې د پرمختیایي پلان لپاره ملاتړ، له خپلو دندو سره د بلدتیا پروګرامونه، د روزنکیو د روزنې ورکشاپونه، د مرکزي دفتر او د ځانګو په کچه د دندې پر مهال د کارمندانو لپاره ځانګړې روزنې

د امنیتي خطر د سنبالنې د طریقو پیاوړي کول، چې دا کار د امنیتي پروټوکولونو او د کارمندانو او خپلخوښو د وړتیاوو د لوړولو، د اغېزمنو مخابراتو اړیکو د ډاډمنتیا او د معیاري عملیاتي کړنلارو د رامنځته کولو له لارې ترسره کېږي

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د کارمندانو او خپلخوښو د وړتیا لوړول

د لا درکه خلکو په موندلو، د جلاشویو کورنیو غړو ترمنځ د اړیکو په ساتلو او بیا ټینګولو کې په ګډه کار کول، زیانمنو ټولنو ته د اقتصادي ملاتړ چمتو کول، د وسلې د ککړتیا په اړه د پوهاوي لوړوالی

د غورځنګ له نورو غړو سره په همغږۍ په بېړني حالتونو کې مالي او تخنیکي ملاتړ چمتو کول ترڅو پخپل وخت او اغېزمنه توګه اقدام وشي.

د سره صلیب له نړیوال فیډریشن او له نورو همکارو ملي ټولنو سره همغږي ترڅو د د همغږۍ مکانیزمونو ته وده ورکړل شي او د اړونده ، اصولي او اغېزمن بشرپاله اقدام لپاره ګډې کړلارې او اوزار رامنځته شي.

# زموږ آرونه یا اصول

آی سي آر سي ، د سره صلیب نړیوال فیدریشن او افغاني سرې میاشتې ټولنه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ غړي دي. لاندې آرونو یا اصول زموږ د کار لاربه یا لارښود دي:

## بشرپالنه

موږ هر وخت او هر چیرې بشري کړېنت ته رسیدګي کوو.

## ناپلوي

موږ په جګړو کې د یوه لوري پلوي هم نه کوو او هیڅکله هم په سیاسي، توکمیز، مذهبي یا د ایډیولوژیکي منځپانګې درلودونکي ناندریو کې د هیچا لنګه نه کوو.

## ناپیپلتوب

موږ له بېړندې اړتیاوو درلودونکیو کسانو سره مرسته کوو، بې له دې چې دا په پام کې ونیول شي چې دوی څوک دي – ملکیان دي، جنګیالي دي، یا هغوی چې تر دې وروسته په جګړو کې ګډون نه لري – یا هغوی چې په شخړې یا نورو تاوتریخوالي پورې د اړوند حالتونه له لامله بندیان شوي وي.

## خپلواکي

موږ د هیڅ دولت یا نړیوال واک استازیتوب نه کوو او خپله ځانواکي ساتو ، چې په دې توګه تل د سره صلیب او سرې میاشتې د غورځنګ له آرونو یا اصولو له مخې عمل وکړای شو.

## خپلخوښې چوپړتیاوې

غورځنګ یو خپلخوښی مرستندویه غورځنګ دی چې په هیڅ ډول د هیڅ ګټې د لاسته راوړلو په هڅه کې نه دی.

## یووالی

په هر هېواد کې د سره صلیب یا سرې میاشتې یوازې یوه ټولنه شتون درلودلای شي چې درازوې یې باید ټولو ته پرانستې وي. پخپله درسته سیمه کې باید بشرپاله کار ترسره کړي.

## نړیوالتوب

دا غورځنګ ټول نړۍ ییز دی، چې پکې ټولې ملي ټولنې یو له بل سره په لاسنیوي کې برابر حالت لري او برابرې پاڅې یا زمه وارۍ او دندې سره شریکوي.


**د لا نورو معلوماتو لپاره:**
kabul@icrc.org

**د سره صلیب نړیواله کمېټه**
**مرکزي نمایندګی، کابل**
۱۵ سړک، ۱ کوڅه، ۴ کور،
وزیر اکبرخان
کابل افغانستان
اړیکه: ۰۰۹۳۷۹۹۵۵۰۰۵۵
www.icrc.org


© ICRC, January 2024

ICRCaf/com.facebook
af_ICRC/com.twitter

ICRC

Cover photo: M. Samimi/ICRC
2024/242 08.2024 2000